SHTAMANAI

**نبوي لارښووني:**

که تاسي پر الله داسي توکل وکړئ، چې حق او رښيتنی توکل وي؛ نو تاسي ته به داسي زرق درکړي لکه د هوا مرغانو ته چې ئې ورکړی دئ، سهار خالي نسونه او بيګا ډکي ګيډي . ( ابن ماجه ، الترمذی او احمد )

يکشنبه | ٦ ذوالقعده ١٤٤٣/ ١٥ جوزا ١٤٠١ | ٥ جون ٢٠٢٢ | سال اول | شماره ٢١ | ٤ صفحه



# د ماليې وزارت سرپرست د ملي پراختيا شرکت څخه ليدنه وکړه

د ماليې وزارت سرپرست الحاج ملا هدايت الله بدري، چې د ټرانسپورټ وزارت سرپرست ملا حميدالله اخندزاده، يې هم ملګرتيا کوله د ملي پراختيا شرکت څخه له نږدې ليدنه وکړه.



د ماليې وزارت سرپرست الحاج ملا هدايت الله بدري، چې د ټرانسپورټ وزارت سرپرست ملا حميدالله اخندزاده، يې هم ملګرتيا کوله د ملي پراختيا شرکت څخه له نږدې ليدنه وکړه. په دې ليدنه کي د ماليې وزارت سرپرست، د ملي پراختيايي شرکت اداري چارې او د کار کوونکو فعاليتونه له نږدې وليدل او له ټولو کارکوونکو يې په دې موخه مننه وکړه، چې دوی د شرکت د پرمختګ او د افغانستان د ځان بسيا يني لپاره نه ستړي کېدونکي هلي ځلي کوي. نوموړي، د ملي پراختيايي شرکت کارکونکو ته ډاډ ورکړ، چې د ماليې وزارت به د ټولو امکاناتو او قوانينو په پام کي نيولو سره له دوی سره هر راز مرسته او همکاري کوي

# د بوديجوي کسر د پوره کولو په تړاو مهمه ناسته ترسره سوه

په دغه ناسته کي چې د ماليې وزير الحاج ملا هدايت الله بدري يې مشري کوله، د ګمرکونو او عوايدو معين، د دفتر لوي رئيس، د عوايدو لوي رئيس، د ګمرکونو رئيسانو او ګڼ شمير مسؤلينو ګډون کړی وو. غونډه کي لومړی د ګمرکونو د پلان، پاليسي څارنې او ارزونې رياست له لوري د تيرو مياشتو د ټوليزو عوايدو په تړاو معلومات وړاندي سول، د راټول سوو عوايدو مقايسوي ارقام څرګند سول او د بوديجې د کسر عوامل په ډاګه سول.



د ماليې وزير الحاج هدايت الله بدري د بوديجې د کسر پوره کولو ته په اشارې وويل؛ د سږ کال بوديجه ټوله پر کورنيو عوايدو ولاړه ده او همدا مو او تاسو به يې تمويلوو، ګمرکي مسؤلين دي ډېره هڅه وکړي، چې په پاک نيت، قوي ارادې او غوره مديريت سره شته ستونزي حل کړي، ترڅو عوايد مو په شفاف ډول را ټول او د بوديجې کسر تکميل سي. د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج ملا محمد ناصر اخند ټولو ګمرکي مسؤلينو ته په چارو کي د نظم او روڼتيا رعايتولو سپارښتنه وکړه. په دغه ناسته کي هوکړه وسوه، تر څو د ګمرکي چارو د ښه پرمختګ په موخه به د سوداګرۍ، روغتيا او مخدره توکو سره د مبارزې غړو په شتون سره يوه ګډه کاري کميټه جوړه سي؛ تر څو د يوې منظمي طرحي پر بنسټ د ستونزو دقيقه ارزونه وکړي او د رهبرۍ په هوکړي سره د يوې مياشتي په موده کي حل کړي.

## سرمقاله

## تازه مېوې به تازه صادرېږي

په افغانستان کي اوس مهال د تازه مېوو فصلونه پيل سوي دي او د هيواد ټول بازارونه له تازه او خوندورو مېوو ډک دي. زموږ خوږې مېوې نه يوازي د هيواد په دننه؛ بلکي ګاونډيو هيوادونو ته هم ښې په خرپ رواني دي، چې په سيمه ييزه او نړيواله کچه مينوال او پېرېدونکي لري. له بده مرغه هر کال زموږ د تازه رسېدلو مېوو صادرولو په وخت کي ګاونډي هيوادونه تر ډېره بريده په ګډو پولو او دروازو کي ستونزي را ولاړوي او يا هم نور ځيني سياسي مسايل رامنځته کيږي، چې له تازه مېوو بار د سوداګرو لاريو ته د اوښتو اجازه نه ورکول کيږي، همدا لامل دئ چې اکثره ډېري تازه مېوې خرابي سي او سوداګر او بڼوال په ميليونونو افغانۍ زيانمن سي او د يوه کال خواري او منډې يې په اوبو لاهو سي. د څو کلونو په موده کي دا چاره په ځلونو تکرار سوې او د متقابلو هيوادونو ترمنځ په دې برخه کي ډېرځله ناستي ترسره سوي، چې کله ناکله بې پايلې پای ته رسېدلي دي. په داسي حال کي چې تازه مېوې د هيواد د صادراتو ستره برخه جوړوي، د بڼوالو لپاره د عايدو ستره سرچينه ده او له دې لاري د هيواد ملي خزانې ته هم په لوړه کچه عوايد راټولېږي. د تازه مېوو صادرولو په برخه کي يادو سوو موضوعاتو که څه هم هر کال ستونزي را ولاړي کړي او سږ کال هم د تازه مېوو وخت را رسېدلې او له ګاونډيانو سره د لارو د بندېدو کوم څرګک نه ښکاري؛ خو د تازه مېوو د صادرولو په وخت کي د هيواد يو بل قيمتي توکي چې د ډېرو سکاره دي د تورخم په ګمرک کي ګاونډي هيواد ته د صادرولو پر مهال په دروازه کي ګڼه ګوڼه جوړه کړې او له تازه مېوو بار لاريو د ځنډ سبب ګرځېدلي دي. دا چې د مېوو د خسا کېدو د تېرو کلونو تجربې تکرار نه سي، سوداګر او بڼوال زيانمن نه سي، همدا وو چې د ماليې وزارت مقام دغه ستونزي ته د رسېدو په موخه د تورخم ګمرک مسؤلينو ته هدايت ورکړ، چې له دې وروسته د ډېرو سکرو باروړونکو موټرو ته په همدې لاره د تګ اجازه ورنه کړي او د ډېرو سکرو کاروانونه دي د پکتيا، پکتيکا او خوست ګمرک له لاري ګاونډي هيواد ته واوړي. په دې سره به د تورخم په ګمرک کي د بار وړونکو لاريو ګڼه ګوڼه راکمه سي او د هيواد په مېوو بار موټرونه به په اسانۍ سره د پولي ها خوا واوړي. د ماليې وزارت د مشرتابه دغه اقدام د تازه مېوو د سوداګرو او بڼوالو هيلي را ژوندۍ کړي، چې هم به مېوې له خوسا کېدو وژغول سي او هم به د بڼوالو او سوداګرو هڅي په اوبو لاهو نه سي

## اخبار مهم هفته



د ميخانيک او برق ځانګي محصلينو لپاره د کاري زده کړو پروګرام په لاره واچول سو

م ۲



روسيه غواړي د مکروريانونو د مرکز ګرمي سيستم بيا ورغوي

م ۲



اداري فساد

م ٤



سيمينار آگاهی دهی به منظور صرفه جويی و تحفظ انرژی برگزار گرديد

م ٤



د کابل هوايي ډګر ګمرکي چارې چټکي سوي دي

م ۲

## د کابل هوايي ډګر ګمرکي چاري چټکي سوي دي



د افغانستان اسلامي امارت د هغه ژمني له مخي چي د ولس سره يې کړې ده، په دې هڅه کي دی، چي له تېر حکومت څخه ور پاته خنډونه له منځه يوسي او سوداګرو ته د لا اسانتيا برابرولو سره اقتصادي پراختيا او ودې ته کار وکړي.
په همدې اساس د ګمرکي اسنادو د ښه څېړلو، بروکراسۍ او وخت ضايع کېدو د مخنيوي په موخه لومړي ځل لپاره د کابل هوايي ډګر ګمرک کي د ګمرګي طی مراحلو واحد مرکز (One Stop Shop) څخه ګټه اخيستنه پيل کړې، چي په دې سره د اسنادو د طی مراحلو پروسه تر پخوا څو چنده چټکه سوې ده. په تيرو وختونو کي د ګمرکي اسنادو طی مراحل په ٣ ورځو کي ترسره کېدل خو اوسمهال په ٣ ساعتونو کي دا پروسه پای ته رسيږي.
د يادي پروسي په لړ کي د سوداګرو د مستقيم نظر اخيستلو او ستونزو اورېدلو په موخه د ټيليفون کولو اسانتيا شتون لري، چي په وسيله يې سوداګر کولای سي پر وخت خپل غږ تر اړوندو مسؤلينو ورسوي.
د لا اسانتيا او شفافيت په موخه د کابل په هوايي ډګر کي د ګمرکي اسنادو د طی مراحلو پروسه (ون ستاپ شاپ) کي په لاندي ډول ترسره کېږي:
١ - مرستندوی ميز: د مرستندوی ميز (Help Desk) له لاري اظهارنامه چمتو کېږي او لاره يې په اسيکوډا سيستم تاکل کېږي.
٢ - فزيکي تشريح: مامورين د توکو تشريح شمېر او بڼي ته په کتو يو - يو چک کوي چي له اسنادو سره سمونه لري که نه.
٣ - قيمت ګذاري: له فزيکي چک وروسته د مامورينو لخوا اسناد قيمت ګذاري ته وړاندي کېږي، د قيمت ګذارۍ برخه يې چک کوي چي سوداګر واقعي بيه وړاندي کړي که نه، که بيه يې واقعي وه تائيدېږي او که نه وه، ډيټابيس ته په کتو بيه ورته ټاکل کيږي.
٤ - د اسنادو چک: د اسنادو چک د تشريح د مامورينو لخوا ترسره کېږي، چي له دې وروسته د اسنادو لاره له سرې ليکي څخه پر شني ليکي بدلېږي.
٥ - د بانکي تعرفې ترلاسه کول: سوداګر له بانکي تعرفې وروسته دغه تعرفه په بانک کي تحويلوي او د توکو د خروجي پاڼې د ترلاسه کولو لپاره (ون استټاپ شاپ) ته مراجعه کوي.
٦ - د خروجي پاڼي له ترلاسه کولو وروسته مسولينو ته د لاسليک په موخه استول کېږي او د برسۍ مدير، د ګمرک مرستيال او آمر له تائيدۍ او لاسليک وروسته د اسنادو طی مراحل پای ته رسيږي. د لا اسانتيا برابرولو او د ګمرکي اسنادو د طی مراحلو له چټکتيا سره سم، د کابل په هوايي ډګر کي تر يو چتر لاندي، فساد، اختلاس او بډې اخيستني له ريښې څخه له منځه تللي او اوسمهال هيڅ ډول توکي له ګمرکي طی مراحلو پرته نه بهر کېږي. دغه اداره توانېدلې ده، چي په تېرو ٨ مياشتو کي د اسلامي امارت له واکمنېدو سره سم، په پوره شفافيت سره د سوداګريزو توکو له درکه (٤٣٠) ميليونه افغانۍ عوايد راټول کړي د يادونې وړ ده، چي د ګمرکي طی مراحلو واحد مرکز (One Stop Shop) د اسانتيا، د سوداګريزو توکو د ډېرېدو، غوره والي او د افغانانو لپاره د کاري فرصت رامنځته کولو په موخه جوړ سوی دئ. سربېره پر دې نړيوالو ته د افغانستان د مثبت انځور وړاندي کولو يوه غوره بېلګه شمېرل کېدای سي.

## روسیه غواړي د مکروریانونو د مرکز ګرمۍ سیستم بیا ورغوي

د مکروريانونو د مرکز ګرمي سيستم د بيا رغوني او مکروريانونو د وضعيت بشپړي ارزوني په موخه روسي پلاوي کابل ته سفر وکړاو د مکروريانونو د ساتني او څارني دولتي شرکت د رهبرۍ هيئت له راغلي تخنيکي پلاوي سره په ګډه د مکروريانونو د تخنيکي دستګاوو او مرکز ګرمۍ سيستمونو د سروي او برآورد په اړه رسنيو سره مالومات شريک کړل.
په دې ليدنه کي د روسيې د اولېمپ انرژي (Olimp Energy) کمپنۍ مشر اليکسي مزيرين وويل: موږ به د افغانستان له سيمه ييزو انجيرانو سره په ګډه کار وکړو، څو ژر تر ژره د مکروريانونو د ويجاړو سوو برخو سروي وکړو او په اړه ئې لازم تصميم ونيسو. هغه زياته کړه، چي موږ د مکروريانونو د دستګاوو، مرکزګرمۍ او نورو تخنيکي سيستمونو د سروي لپاره راغلي يوو، هغه امکانات لټوو چي وکولای سو ډېر ژر ټول غير فعال سيستمونه بېرته فعال کړو، څو د مکروريانونو اوسېدونکو ته خدمات وړاندي سي.
په ورته مهال د مکروريانونو د ساتني او څارني شرکت رئيس پوهنمل غلام عمر عبدالله له راغلي پلاوي څخه مننه وکړه او زياته ئې کړه چي د روسي انجيرانو په همکارۍ به ډېر ژر دغه سروي پای ته ورسېږي او د سروي پايله به د دولتي شرکتونو عمومي رياست او د ماليې وزارت محترم مقام ته وړاندې سي، څو د راتلونکي اجراآتو په موخه عملياتي پلان ترتيب او عملي کار پيل سي.
نوموړي دغه راز د مکروريانونو اوسېدونکو شکايتونو ته په اشارې وويل: دا تاسيسات شاوخوا ځلوېښت کاله وړاندي جوړ سوي چي د وخت په تېرېدو ئې خپل کيفيت له لاسه ورکړی، چي له بده مرغه د تېر نظام مسولينوهم يادو برخو ته پام ونه کړ او د فساد له کبله دغه سيستمونه جوړ نه کړای سول. همداراز په خپلو خبرو کي د مکروريانونو د اوبو ستونزي ته په اشارې وويل: په دې برخه کي هم د ٣٥ ميليون افغانيو په ارزښت يوه پروژه په لار اچول سوې او ډېر ژر به ياده ستونزه تر يوه بريده حل سي.



## د میخانیک او برق ځانګي محصلینو لپاره د کاري زده کړو پروګرام په لاره واچول سو



د ميخانيک او برق ځانګي محصلينو لپاره د کاري زده کړو پروګرام د افغانستان په تخنيکي او مسلکي تعليماتو اداره کي د يو لړ مراسمو په ترڅ کي ترسره سو. په دغه پروګرام کي زده کړيالان د نظري زده کړو تر څنګ پرمختللي عملي چاري هم زده کوي چي وروسته بيا کاري چاپيريال ته وړاندي کيږي.
په دغه غونډه کي د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې عمومي رئيس مولوي غلام حيدر شهامت، د خوندي اسنادو دولتي مطبوعي عمومي رئيس ډاکټر محمد خالد مروان، د تخنيکي او مسلکي تعليماتو ادارې اکاډميک مرستيال مولوي نور محمد عزيزي، د ماليې وزارت د اړيکو او عامه پوهاوي رئيس احمد ولي حقمل، د جرمني هيواد څخه راغلی ماسټر روزونکی اندرس ګوکل، د خوندي اسنادو دولتي شرکت (مطبوعې) د توليد امر او د اړوندو ادارو يو شمير مسؤلينو ګډون کړی وو.
غونډه چي د قرآن مجيد په تلاوت پيل سوه، په پيل کي د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې عمومي رئيس مولوي غلام حيدر شهامت خبري وکړې،ده وويل: چي دغې ادارې د وطن ځوانانو ته د تخنيکي او مسلکي لوړو زده کړو ښه زمينه برابره کړې او هڅه کوو، تر څو يوه تخصصي او کارپوهه کاري قوه د هيواد شرايطو ته په کتو د ټولني خدمت ته وړاندي کړو.
ورپسي د خوندي اسنادو دولتي مطبوعي عمومي رئيس ډاکټر محمد خالد مروان د ياد شرکت د فعاليتونو په اړه د معلوماتو وړاندي کولو تر څنګ زياته کړه، چي د معمول له مخي زده کړيالان د نظري او عملي زده کړو د ترلاسه کولو وروسته هڅه کوي، تر څو په دولتي ادارو کي جذب سي. تر کومه ځايه چي د خوندي اسنادو د چاپ دولتي شرکت مسلکي او مجرب اشخاصو ته اړتيا لري، په همدې اساس هڅه کوو، چي يو شمير دغه زده کړيالان به له يوې ازمويني اخيستلو وروسته ياد شرکت ته جذب کړو، تر څو د دوی له علمي او مسلکي تجربو څخه ګټه پورته کړو او د دوی په مټ به هيواد د ځان بسيايني پر لور خوځښت وکړي.
د ماليې وزارت د اړيکو او عامه پوهاوي رئيس احمد ولي حقمل وويل: زده کړيالانو ته د کاري زده کړو زمينه برابرول له دوی سره مرسته کوي تر څو په پوره انګيزې او وړتيا سره کاري چاپيريال ته وړاندي سي او د خپلو مسلکي تجربو څخه په ګټه اخيستنه سره د هيواد په اقتصادي وده کي فعال رول ولوبوي. ښاغلي حقمل ځوانانو ته په خطاب کي وويل: چي تاسو د هيواد روښانه راتلونکی ياست او ستاسو پر مټ دا هيواد اقتصادي ځان بسياينې ته رسيږي.
د چاپ ماسټر ټرينر اندرس ګوکل وويل: چي موږ له مخکي څخه د خوندي اسنادو د چاپ يو پياوړی ټيم جوړ کړی دئ او زه واقعآ خوښ يم چي داسې يو مډرنه چاره ترسره کوو. موږ بايد لا مخکي حرکت وکړو، بله مرحله به د پاسپورټ چاپ، د هويت کارت او نورو خوندي اسنادو چاپول وي، چي د دې هيواد (افغانستان) لپاره ارزښت لرونکي دي. هڅه کوو، چي د خوندي اسنادو د چاپ شرکت ته يو داسي مسلکي ټيم برابر کړو، تر څو د ياد شرکت فعاليتونه په ښه توګه پر مخ يوسي.



## سی چک طیاره ایربس ٣١٠ شرکت آریانا در داخل کشور آغاز گردید



سی چک طياره ايربس ٣١٠ آريانا با معيار های قبول شده هوانوردی جهانی توسط پرسونل ورزيده و مجرب شرکت آريانا در داخل کشور آغاز گرديد. اين کار در هنگر جديد آريانا با امکانات لازم تحت نظر بازرسان مجرب آريانا به پيش می رود که در مجموع ١۴٣٠ کارت مورد بررسی قرار خواهد گرفت.
اين کار توسط انجيران جوان معاونيت تخنيکی شرکت اريانا تحت رهبری و تشويق مستقيم رحمت الله آخوند، رييس شرکت آريانا و تحت نظر بازرسان ورزيده هوانوردی با احساس وطن پرستانه کار خستگی ناپذير صورت می گيرد.
در اين چک، درزها و شکستگی ها، زنگ زدگی و رنگ رفتگی تا کنون به ١١٠٠ کارت رسيده است که در ساحات مختلف طياره از جانب بازرسان شرکت آريانا و بازرسان هوانوردی شامل NRC تثبيت گرديده که غرض رفع مشکل در مطابقت به MPD و رهنمود کمپنی اريبست رسيدگی صورت گرفته و در مدت يک ماه تکميل خواهد گرديد.
يک تن از مسئولين اين شرکت که تجربه انجام چک های سی را در طياره های MRO اروپا، مصر، ترکيه، پاکستان و هندوستان دارد ضمن ابراز قدردانی از توجه شخص وزير صاحب ماليه، رييس، کارمندان و انجنيران کيفيت کاری بخش تخنيکی آريانا با موجوديت هنگر فعلی اطمينان داد و اضافه کرد، کار چک سی طياره در داخل کشور يک دستآورد قابل ملاحظه بوده و از فرار ١،٥ ميليون دالر صرفه جويی صورت می گيرد.
قابل ياد آوريست که طياره ها چهار نوع چک ميشود "A", "B", "D" و «C» که سی چک سنگين ترين چک به شمار ميرود.
هر طياره بعد از انجام تعداد معينی پرواز و پشت سر گذاشتن ميزان ساعت پرواز مشخص، نياز پيدا ميکند تا بازرسی های مشخص از کليه قسمت ها منجمله سيستم ها و ماشين آن انجام می شود و سی چک (C-Check) پس از هر ٣۵٠٠ ساعت در هر ١۵ ماه يکبار می باشد، انجام می شود.

شتمنی
SHTAMANAI

# نقش جمع آوری مالیات در افزایش عواید دولت

محمد طاوس فرزاد
کارشناس اداره کمک ها

افغانستان کشوریست که عواید خود را از منابع داخلی و خارجی بدست می آورد.یکی از بخش هایکه در در آمد زایی دولت نقش بزرگ را ایفا می کند جمع آوري ماليات است.وزارت ماليه كه يكى از اركان اصلى مديريت كننده نظام اقتصادي و مالى دولت افغانستان را تشكيل ميدهد.جمع آوري ماليات كه چرخ هاي اقتصادي يك جامعه را به حركت در مى آورد درآمدهاي حاصل ازفعاليت هاي شركت هاي اقتصادي آن جامعه است . در اين ميان ، برخى از جوامع از منابع و مواد خام زيادي برخوردار اند كه نقش كليدي و بسيار مهمى در افزايش درآمدهاي كشور ايفا مى كند .ولى نكته قابل توجه اين است كه چنين درآمدهايى براي پيشرفت اقتصادي كشورها بصورت پايدار و هميشگى نمى باشد و در اينجاست كه دولت ها بايد به فكر درآمدهاي ثابت و مستمر باشند. بدست آرودن ثروت از راه فروش منابع تمام شدنى اي مثل معادن و ذخاير زيرزمينى ، رونق و پيشرفت نيست ؛ چون اين منابع دايمى نيستند و بلاخره روزي تمام خواهند شد. به همين دليل كشور ها تلاش مى كنند تا راه هاي مطمئن و هميشگى در آمد زايى را ايجاد كرده تا بتوانند به رشد اقتصادي دايمى برسند .يكى از اين درآمدهاي پايدار كه در بيشتر جوامع و دولت ها در تامين بودجه و هزينه هاي عمومى بسياراست. كه به درآمد پاك معروف مى باشد . دولت ها با وضع ماليات مى توانند « ماليات » ، موثر است باعث رشد و پيشرفت اقتصادي جوامع خود شوند به گونه اي كه با هدايت كردن درآمد ناشى از ماليات به سمت سرمايه گذاري از طريق اعطاي تسهيلات بلند مدت بانكى مى توانند باعث رشد و شكوفايى ورونق شركت هاي اقتصادي شده و در نتيجه با افزايش درآمد موسسات اقتصادي ميزان درآمدهاي مالياتى دولت نيز افزايش پيدا مى كند. از مهمترين اهداف وضع ماليات در جامعه مى توان به توزيع مناسب درآمد ، مبارزه با فساد، مهار تورم،فراهم كردن زمينه هاي لا زم براي تحقق رقابت پذيري، تحقق رشد اقتصادي پيوسته، باثبات و پرشتاب متناسب با اهداف چشم انداز، ايجاد اعتماد و حمايت از سرمايه گذاران، اهتمام به نظم و انضباط مالى وبودجه اي، تلا ش براي قطع اتكا كمك هاي خارجى و تأمين آن از محل درآمدهاي مالياتى و... اشاره نمود.علاوه بر اينكه دولت در ايجاد عدالت مالياتى از طريق وضع سياستهاي كارآمد مالياتى در جامعه نقش مهمى را ايفا مى كند ، مردم تشكيل دهنده يك اجتماع نيز بايد در رسيدن به هدف فوق دولت را ياريدهند به گونه اي كه با شفاف سازي درآمدها و پرداخت به موقع ماليات مى تواند دولت را تقويه وحمايه كنند.پرداخت ماليات از مهمترين عوامل رشد و توسعه جامعه محسوب مى شود و موجب رونق اقتصادي،تحقق ثبات اقتصادي و مالى، افزايش خدمات و عمران و آبادانى كشور مى شود. از اين رو ارتقاي روزافزون نظام مالياتى و همگام ساختن آن با دانش روز، نقش انكارناپذيري در توسعه اقتصادي كشوردارد. با نگاهى اجمالى به شاخصهاي پيشرفت اقتصاد در كشورهايى كه ماليات در اقتصاد آنها نقش اصلى را ايفا مى كند متوجه مى شويم



كه تكيه بر درآمدهاي پايدار مالياتى ضامن رشد و توسعه اقتصاد بوده و ضريب اطمينان موفقيت در اجراي پروژه هاي عمرانى و زير ساختهاي شهري با استفاده از ماليات بسياربالا مى باشد. رشد بخش هاي مختلف صنعت و تجارت در گرو اين نوع نگاه است و بايد اقرار كرد كه فروختن مواد خام و صرف آن در كشور راه به جايى نخواهد برد . يكى از اين درآمدهاي پايدار كه در بيشتراست. كه به درآمد « ماليات » ، جوامع و دولت ها در تامين بودجه و هزينه هاي عمومى بسيار موثر است پاك معروف مى باشد . دولت ها با وضع ماليات مى توانند باعث رشد و پيشرفت اقتصادي جوامع خودشوند به گونه اي كه با هدايت كردن درآمد ناشى از ماليات به سمت سرمايه گذاري از طريق اعطاي تسهيلات بلند مدت بانكى مى توانند باعث رشد و شكوفايى و رونق بنگاههاي اقتصادي شده و در نتيجه با افزايش درآمد شركت ها ميزان درآمدهاي مالياتى دولت نيز افزايش پيدا مى كند. ترويج فرهنگ مالياتى و معرفى مزاياي ماليات در آبادانى و عمران شهرها و كشور و ايجاد امكانات عمومى، مهمترين گامى است كه وزارت ماليه در سالهاي اخير توجه ويژه اي نسبت به آن داشته است،از اين رو اين وزارت اقدامات زيادي در جهت هدايت افكار و باور عمومى به سمت شناخت مزاياي ماليات و اينكه مردم با پرداخت ماليات در امر اداره كشور سهيم بوده و به اين وسيله مى توانند مانع به هدر رفتن سرمايه هاي اصلى كشور شده و آن را براي نسل آينده و فرزندان خود ذخيره نمايند ، به انجام رسانده است.اگر بپذيريم ماليات اهميت ويژه اي براي تامين منابع مالى مورد نياز دولت ها دارد، بايد براي افزايش درآمدهاي مالياتى فرهنگ سازي و اعتماد سازي مناسب صورت بگيرد تا مردم با اطمينان هر چه بيشتر بخشى از در آمد حاصل از فعاليت هاي اقتصادي خود را به ماليات اختصاص دهند

## سیمینار آگاهی دهی به منظور صرفه جویی و تحفظ انرژی برگزار گردید



د افغانستان برشنا شرکت سیمینار یک روزه ای را تحت عنوان «صرفه جویی و تحفظ انرژی» برای کارمندان ادارات دولتی در خیبر هال وزارت مالیه دایر نمود. در این سیمینار، نخست انجنیر فرهاد نوابی، انجنیر مثمریت انرژی برشنا شرکت ضمن سپاسگذاری از همکاری وزارت مالیه پیرامون منابع انرژی و نقش آنها در اقتصاد کشور صحبت نمود. سپس طی پریزنتیشنی در رابطه به هدف برنامه آگاهی دهی صرفه جویی و تحفظ انرژی، صرفه جویی و تحفظ از نگاه اسلام، اهمیت صرفه جویی و تحفظ انرژی، وضعیت سکتور انرژی کشور، روش های صرفه جویی و تحفظ انرژی، انواع انرژی، انواع چراغ ها، چگونگی استفاده از وسایل برقی و برخی مسایل دیگر معلومات همه جانبه ارائه نمود. در ختم برنامه علاوه بر ارائه پاسخ به سوالات اشتراک کنندگان، از ایشان تقاضا نمود تا در بخش صرفه جویی و تحفظ انرژی با د افغانستان برشنا شرکت همکار بوده در راستای رشد اقتصادی مردم و وطن تلاش نمایند.

**اعلان داوطلبی ۳ جایداد دولتی**

موضوع: به اعلان سپردن ۳ جایداد دولتی واقع ساحات مختلف ولایت کابل
قرار است ریاست عمومی املاک دولتی یکتعداد جایدادهای دولتی ذیل در مرکز را طور جداگانه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی سپرده شود که مشخصات آن قرار ذیل است.

١- یکباب هنگر بمساحت(١١٤٧) مترمربع واقع داخل محوطه فابریکه نساجی بگرامی ناحیه١٦ولایت کابل
٢- موازی ٣٥٠ مترمربع شامل شش باب دکان آیسکریم فروشی واقع سرک عمومی کابل ننداری ناحیه٨ ولایت کابل
٣- جای دومحل بایسکل نگهبانی بمساحت٧٨٤ مترمربع واقع در وازه شمالی ودر وازه جنوبی ریاست پوهنتون کابل

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، میتوانند بعد از تاریخ نشراعلان الی مدت (٢١) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر ، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (٣٠٠٠) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

**اعلان داوطلبی ریاست عمومی تکنالوژی معلوماتی**

تدارک خدمات انترنت و E١ (دیتالینک) ریاست عمومی تکنالوژی معلوماتی وزارت مالیه (لات دوم)وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء(تدارک خدمات انترنت و E١ (دیتالینک) ریاست عمومی تکنالوژی معلوماتی وزارت مالیه (لات دوم) دارای نمبر داوطلبی Rebid -٠١٨-NCS/١٤٠١/MOF که به روش باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه ، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند. تاریخ مشخص آفرگشایی: ٠١/ سرطان/١٤٠١ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.تضمین آفر : به مبلغ ٥٥٠,٠٠٠ (پنجصد و پنجاه هزار) افغانی صرف تضمین بانکی میباشد.آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم. شماره تماس دفتر: ٠٢٠٢٩٢۴۵٨۴آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود

**اعلان داوطلبی شرکت دولتی سپین زر کندز**

شرکت دولتی سپین زر کندز در نظر دارد یک تعداد منازل رهایشی ملکیت خویش واقع مرکز شهر کندز که میعاد قرارداد شان قبلاً به اختتام یافته است، در سال ١٤٠١ از طریق پروسه داوطلبی به کرایه بدهد:
افراد و اشخاص که خواهش اشتراک در داوطلبی جایداد های متذکره را داشته باشند بعد از تاریخ نشر اعلان با درخواست های خویش به مدیریت جایدادهای ریاست شرکت دولتی سپین زر مراجعه نمایند، شرطنامه را ملاحظه نموده تامینات نقداً اخذ می گردد.

**اعلان داوطلبی شرکت دولتی سپین زر کندز**

شرکت دولتی سپین زر کندز در نظر دارد یک تعداد معاملات ملکیت خویش واقع جوار سرک چمن سپین زر و توت باغ سابقه راکه میعاد قرارداد شان به اختتام رسیده، از طریق پروسه داوطلبی به کرایه بدهد:
افراد و اشخاص که خواهش اشتراک در داوطلبی جایداد های متذکره را داشته باشند بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ٢١ یوم با درخواست های خویش به مدیریت جایدادهای ریاست شرکت دولتی سپین زر مراجعه نمایند، شرطنامه را ملاحظه نموده تامینات نقداً اخذ می گردد

**اعلان داوطلبی شرکت دولتی مسافر بری ملی بس**

شرکت دولتی مسافر بری ملی بس بخاطر رشد عواید و استفاده موثر از جایداد های خویش در نظر دارد موازی ٥٦٢٥ متر مربع زمین سفید ملکیت خویش را واقع سمنت جنوب شرق جوار دروازه جنوبی شرکت ملی بس از طریق داوطلبی برای مدت ١٥ سال به کرایه بدهد:
موسسات دولتی ویا شرکت های خصوصی که مطابق فصل سوم ماده شانزده هم قانون تدارکات واجد شرایط و آماده به سرمایه گذاری باشند. درخواستی های شانرا ضم فوتوکاپی تذکره تابعیت، جواز معتبر، طرح و پروپوزل کاری خویش از تاریخ نشر اعلان الی مدت ٢١ یوم تقویمی به مدیریت عمومی قرارداد های شرکت دولتی ملی بس واقع زنده بانان تسلیم نموده، شرطنامه را ملاحظه نموده تضمین طبق صراحت قانون نقداً اخذ می گردد.

**اعلان داوطلبی**

موضوع: به اعلان سپردن سه جایداد دولتی واقع ساحات مختلف ولایت کابل
قرار است ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه یک تعداد جایدادهای دولتی ذیل در مرکز را طور جداگانه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی سپرده شود که مشخصات آن قرار ذیل است.
١- موازی٧٠٨ مترمربع زمین دارای یکباب تعمیر واقع دست چپ دروازه امکا ناحیه ١٦ ولایت کابل
٢- یکباب مغازه نمبره کانکریتی یک منزله بمساحت(٣٢٣) مترمربع واقع قسمت الف خوشحال خان ناحیه٥ ولایت کابل
اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، میتوانند بعد از تاریخ نشراعلان الی مدت (٢١) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر ، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (٣٠٠٠) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

شتمنی
SHTAMANAI

## دومین نشست بورد تخنیکی شریک سازی زیربناها دایر گردید



دومین نشست بورد تخنیکی شریک سازی زیربناها تحت ریاست محمد صابر نثار، سرپرست ریاست عمومی سرمایه گذاری و زیر بناء معینیت پالیسی وزارت مالیه و اشتراک نمایندگان وزارتخانه ها و ادارات زیربنایی در خیبرهال این وزارت دایر گردید.
این نشست که با تلاوت آیات از قرآن عظیم الشأن آغاز گردید، ابتدا صورت جلسه قبلی مورد پیگیری قرار گرفته و متعاقباً پریزنتشنی در مورد مسوده مقرره شریک سازی زیر بنا ارائه گردید.
این جلسه بخاطر روی ایجاد هماهنگی میان وزارت خانه ها و ادارات سکتور زیربنایی پیرامون شناسایی پروژه های هم مسیر، یکجا نمودن پلان های تطبیقی چندین پروژه منحیث یک پلان تطبیق واحد و جلوگیری از هدر رفتن وجوه مالی دولت تدویر یافت.
همچنان آمر نظارت و تطبیق پروژه های شرکت دولتی آبرسانی و فاضلاب در باره چگونگی فعالیت ها و پلان های آینده شرکت متذکره به اشتراک کنندگان معلومات داد

**د امتیاز خاوند: د ماليې وزارت**

**مسؤل مدير: احمد ولي حقمل**

**مرستيال: محمد نبي سلطاني**

**کتنپلاوی: اجمل زاهد**

**د خبر مدير: داود نظري**

**خبريال: سيد مصطفی سروش**

**د معلوماتو راټولوونکی: محمد افضل الکوزی**

**عکاس: فضل احمد يوسفزی**

**ډيزاينر: محمد نسيم ظهوري**

**د ماليې وزارت د لاسته راوړنو، خبرونو، کنفرانسونو، خبرتياوو، غونډو، داوطلبۍ اعلانونو، د املاکو د قراردادونو او نورو مالياتي مسايلو څخه د خبرېدا لپاره لاندي آدرسونه کتلای سئ:**

**ويبپاڼه: mof.gov.af**


**ټويټر: @afghanistanmof**

**يوټيوب: afghanistan mof**

**فيسبوک: د ماليې وزارت - وزارت ماليه**

# اداري فساد





ترتيب کوونکی:
**ابو محمد ابراهيمي**
**د حقوقي بورد غړی**

دا يوه جوته خبره ده، چې اداري فساد زموږ په هيواد کې د ډيرو کورنيو او نړيوالو ستونزو او گواښونو سره لاس او گريوان کړي وو، په داسي حال کې چې افغان ولس د څلورو لسيزو را هيسې د جگړې، بيوزلی، کډوالی، بې کاری او دې ته ورته ډول - ډول ستونزو سره لاس اوگريوان دئ
اسلامي ارزښتونوته وده او پراختيا د مسلمانانو له مهمو دندو څخه گڼل کيږي، هرڅوک اوهره ټولنه چې د اسلامي فرهنگ د پراختيا لپاره قلم او يا بل کوم گام اخلي په حقيقت کې خپل اساسي مسؤليت سرته رسوي.
له شک پرته د مسلمانانو په منځ کې د ستونزو، بدمرغيو او وروسته والي او ډول - ډول نادودو شتون اصلي علت او لامل په اسلام نه پوهېدل او د ژوند په بېلا بېلو برخو کې د اسلامي احکامو نه پلي کول او غير اسلامي قوانينو ته رجوع کول دي.
پرهمدې بنسټ د موجوده ستونزو او مشکلاتو د کموالي او د يوې سالمي، نېکمرغي له فساد څخه پاکي او په اسلامي عقيده ولاړې ټولني د رامنځ ته کولو لپاره لازمه او ضروري ده، چې د دين دعلماوو، پوهانو، ليکوالانو او تحقياتي ادارو لپاره د څېړنو، ليکنو او خپرونو زمينه برابره سي؛ ترڅو مسلمانان او د اسلامي ټولني ټول وگړي په آسانۍ سره وکولای سي د هغوی له آثارو او خپرونو څخه گټه پورته کړي او خپلو بې شميره ستونزو ته خاتمه ورکړي.
په دې ستونزمنو حالاتو کي د موجوده ستونزو د حل لپاره په کار ده، چې د اداري فساد سره د مبارزې او لمنځه وړلو په برخه کي کوټلي گامونه اوچت سي، ترڅو دا بدرنگه پديده زموږ له ټولني څخه ورکه او له اداري فساد څخه پاکه ټولنه رامنځ ته کړو.
څرنگه چې د اداري فساد له نوم څخه څرگنديږي داد ټولو هغوغير قانوني کارونو او انحرافاتو پايله ده چې په يوه اداره کي رامنځ ته کيږي، دغه تخلفات او غير قانوني کړني پرته له دې، چې په اداري چاپيريال کي رامنځ ته کيږي او د اداري صفت او نوم له ځان سره اخلي په خپل ذات کي هم فساد گڼل کيږي.
اداري فساد ته اسلامي شريعت هم له همدې زاويې گوري، په دې معنی پرته له دې، چې په کوم چاپيريال او د چا لخوا سرته رسيږي گناه او فساد گڼل کيږي.
نو په دې اساس ويلای سو چې اداري فساد (درغلي) هغه شوم ښکارنده ده، چې هم د اسلامي شريعت او هم د افغانستان د نافذه قوانينو له مخي نامشروع او غير قانوني عمل دئ، اسلامي شريعت او هم د گران هيواد قوانين له اداري فساد سره مبارزه هم د ټولني او هم د اسلامي حکومت دنده بولي نو د دې مبارزې لپاره اړينه ده، چې هم يې د اسلامي شرعت او هم د افغانستان د قوانينو په رڼا کي بيان کړو.
اداري فساد په لغت کي له دوو کليمو (فساد) او (اداري) څخه رامنځ ته سوی دئ.
اول د فساد تعريف: د اسلامي شريعت له مخي فساد په لغت کي د لمنځه تللو او باطېلېدو په معنی راغلی دی عربان وايې: هغه شی فاسد سو يعني باطل او له منځه ولاړ.
ځيني علما بيا وايي فساد د صلاح ضد او يوشي له خپل منځني او اوسط حد څخه د وتلو په معنی دئ.
فيروز آبادي په (القاموس المحيط کي ويلي دي: فساد د يوچا مال په ظلم سره اخيستلو ته وايي او مفسدت د مصلحت دئ.
د مثال په ټول الله تعالی د خلکو دمال د ترلاسه کولو لپاره سمه او شرعي لاره ټاکلې ده، چې په حقيقت کي نيغه او د اعتدال لاره ده؛ نو په ظلم زور او له غلطي لاري څخه په استفادې له خلکو څخه مال اخيستلو ته فساد وايي.
په اسلامي فقه کي د فساد کلمه هغه کار ته ويل کيږي چې د اسلامي شريعت د احکامو خلاف وي، هغه که په مخالفت کي په سخته بڼه او د حرامو په ډول وي او ياهم په عباداتو کي د مکروهاتو په بڼه، يا په دنيوي چارو کي په اخلاقي برخه کي وي او ياهم په اداري برخه کي وي.
د اداري لفظ تعريف په لغت کي د اداري کلمه له اداري څخه اخيستل سوې نسبتي صفتی دئ، چې اداري ته منسوب دئ.
يعني هغه فساد چې اداري ته منسوب دی د اداري کليمې تعريف د اداري له اصطلاح سره لازم دئ، ځکه اداري په اصل کي اداري ته منسوب صفت دئ.

**د اداري فساد اصطلاحي تعريف**

د اداري فساد اصطلاح له دوه برخو فساد او اداري څخه جوړه سوې او په تير مطلب کي دا دواړه لفظونه په بېل بېل ډول سره تعريف سول په دې مطلب کي د اداري فساد اصطلاح د اسلامي شريعت او د افغانستان دقوانينو په رڼاکي تعريف کيږي.
په قرآن کريم کي فساد او د فساد له کليمې اخيستل سوي نوري کليمې په قرآن کي په مختلفو صيغو سره بيان سوي دي، قرآن کريم په مختلفو مناسبتونو کي نيږدې په پنځوسو آيتونو کي د فساد کليمه راغلي ده چې فساد يې غندلی، مفسدين يې ملامت کړي دي او د فساد خطرونه او د هغه بدې پايلي يې ټولني ته بيان کړي دي.
الله متعال په خپل سپيڅلي کتاب قران عظيم الشان کي د بشريت د لارښووني لپاره د سورة البقرې په ٢٠٥ آيت کي فرمايلي دي.
ژباړه:
او هر کله چې مخ واړوي، نو هڅه کوي چې په ځمکه کي فساد خپور او کښت او نسل له منځه وړي او الله تعالی فساد نه خوښوي.
مفسيرونو د فساد له کلمې څخه په مختلفو آيتون کي مختلف مفاهيم را ويستلي دي چې د هغوی له ډلي څخه ځينوته يې داسي اشاره کولای سو، گناه کول، وراني کول، بيوزلي او دښتمنۍ کمېدل، لارشکونه، د الله تعالی او دهغه له رسول سره جنگ، شرک، قتل، لوږه، وچکالي او دبرکت له منځه تلل، ظلم کول، په زوره د خلکو مال خوړل او د پيغمبرانو او مؤمنانو وژنه.
په نبوي احاديثو کي هم د فساد د لفظ يادونه سوې ده په نبوي احاديثو کي د فساد لفظ ډير ځلې تکرار سوی دئ، له ابودرداء رض عنه څخه روايت دئ چې نبی کريم ص فرمايلي دي: آيا تاسې (له هغه عمل) څخه چې له روژې، لمونځ او صدقې څخه زيات اجر او ثواب لري خبر کړم؟ صحابه کرامو وويل هو! رسول الله ص وفرمايل: د خلکو ترمنځ د سولي لپاره منځگړيتوب ځکه د خلکو ترمنځ فساد جوړول هلاکوونکی دئ. په دې حديث شريف کي نبي کريم ص فساد د هلاکوونکي عامل په توگه ياد کړی دئ او هغه يې د ټولني لپاره خطرناک او د ټولني لمنځه وړونکی بللی دئ.
په يوه بل حديث شريف کي چې د حضرت معاويه رض څخه روايت سوی، هغه وايي: له رسول کريم ص څخه مي واورېدل چې ويل يې، که د خلکو پټې دی ولټولې (د شخصي حريم جاسوي دي وکړه) هغوی دي فاسد کړل ايا نږدې ده چې فاسد يې کړې.
په اسلامي شريعت کي د اداري فساد تعريف لکه څرنگه مو چې د فساد په مفهوم کي وويل هر هغه عمل چې د اسلامي شريعت له احکامو او اهدافو سره په ټکر کي وي معصيت او فساد شميرل کيږي، نوکه د امعصيت د اداري او ياهم د اداري د اجراآتو له لاري ترسره سي نو اداري صفت اخلي او اداري فساد ورته ويل کيږي.
د افغانستان په قوانينو کي د اداري فساد تعريف
د افغانستان له رشوت او اداري فساد سره دمبارزې د قانون په دريمه ماده کي د اداري فساد په تعريف کي وايي چې هر هغه عمل چې د دولتي او ياعامه خدمتونو د کار کوونکو لخوا د خپلو شخصي موخو او گټو لپاره (په مشخصه توگه په هغو صورتونو کي چې په دې قانون کي يې يادونه سوې ده ترسره سي اداري فساد بلل کيږي
+++

## د تورخم گمرک له لاري د ډبرو سکرو باروړونکو موټرو باندي د تگ راتگ بنديز ولگيد

د ماليې وزارت مقام د هدايت له مخي له دې وروسته د تورخم گمرك له لاري د ډبرو سکرو باروړونکو موټرو ته د تگ اجازه نه ورکول کيږي کيږي.
دا چې په افغانستان کي د تازه ميوو موسم دئ او په زياته اندازه تازه ميوې د تورخم گمرك له لاري صادريږي، د يادو ميوو د خرابيدو او ترافيکي تراکم څخه د مخنيوي په موخه د ډبرو سکرو باروړونکو موټرو چلونکي بايد له دې وروسته د پکتيا، پکتيکا او خوست گمرك له لاري د ډبرو سکرو صادرات تر سره کړي.

## د هټيوالو او کسبگرو د ماليه ورکوونکي د پيژندني گڼي خبرتيا

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست په پلازمېنه کابل او مستوفيتونو کي ټولو د کوچنيو کاروبارونو لرونکيو (هټيوالو او کسبگرو) ته په خورا درنښت سره خبر ورکوي، چې د دوی د مالياتي چارو د چټکتيا، د مالياتي دوسيو او ريکارډ د ښې خونديني او د مالياتي جريمو د مخنيوي لپاره اړين دي، چې د ماليه ورکوونکي د پيژندني گڼه (TIN) تر لاسه کړي.
د هيواد د نافذه قوانينو پر بنسټ، که چيري يو ماليه ورکوونکی د ماليه ورکوونکي د پيژندني گڼه ونه لري، نو له مالياتي جريمو سره مخ کيږي او د کوچنيو کاروبارونو لرونکيو (هټيوالو او کسبگرو) ته د اسانتياوو په موخه په پلازمېنه کابل کي د ماليه ورکوونکي د پيژندني گڼي مرکزي آمريت او په ولايتونو کي د مستوفيت ادارو ته په برېښنايي ډول د دغه لېنک (http://tin.ard.gov.af) په کښېکارلو سره د ماليه ورکوونکي د پيژندني گڼي غوښتنليک ته سر ورښکاره کولای، ډکولای او تعقيبولای سی او په فزيکي ډول د دغه قانوني سند د چمتووالي پر مهال د تر لاسه کولو لپاره ټاکلي اداري ته ورتللای سی او د دغو ادارو دروازې تل د هيوادوالو پر مخ پر مخ پرانيستي دي.
د لا زياتو معلوماتو له پاره د عوايدو لوی رياست د اړيکوالو خدمتونو مرکز له (١٠٠٠) شمېرې او د دغه رياست له رسمي برېښليک (info.ard@mof.gov.af) سره اړيکه ټينگولسی سی.
زموږ ماليه - زموږ هيواد - زموږ راتلونکی

د شتمنۍ اوونيزه د ماليې وزارت ټولو همکارنو د مقالو منونکې ده، مقالي بايد اقتصادي او ماليې وزارت سره سمې وي.
له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک magazine@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوی.